# آبادي
پنځلس ورځنی

ABAADI ONLINE FORTNIGHTLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت پنځلس ورځنی

گڼه: ۱۸ | مسلسل نمبر: ۱۵۶

پنجشنبه، جمادی الآخره ۸، ۱۴۴۸هـ. ق کال




## سرلیکنه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ کال د عقرب میاشتې په ۲۱مه نېټه، د ارګ په چهارچنار مانۍ کې د روسیې فدراسیون د لومړي وزیر له مرستیال ښاغلي الکسي اووچوک او مل پلاوي سره ولیدل. د دې لیدنې پرمهال د دواړو لورو ترمنځ د اقتصادي او سوداګریزو اړیکو د پراختیا، ګډې پانګونې او عملي همکاریو په اړه خبرې وشوې. دغه راز د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال او د روسیې د لومړي وزیر مرستیال په حضور کې د افغانستان او روسیې فدراسیون د خصوصي سکټور ترمنځ د ۱۰۳ میلیونه ډالرو په ارزښت د اقتصادي همکاریو ۱۵ تفاهمنامې لاسلیک شوې. په اوسني نړیوال اقتصادي حالت کې هېڅ هېواد نه شي کولای په یوازې ځان په اقتصادي لحاظ پرمختګ وکړي او په دې برخه کې شته ستونزې هوارې کړي. د دې پرمختګ له پاره اړینه ده چې په سیمه ییزه او نړیواله کچه همکاري ترلاسه شي. کله چې دا ډول همکاري ترسره کېږي نو بیا د هېوادونو ترمنځ اقتصادي اړیکي ټینګې او د هغو له لارې بیا متقابلو ګټو، سوداګرۍ، پانګونې او په ټوله کې اقتصادي پرمختګ ته لاره هواربږي. اسلامي امارت هم په همدې موخه په سیمه ییزه او نړیواله کچه د اقتصادي اړیکو ټینګولو ته مخه کړې ده؛ څو په اقتصادي لحاظ د پرمختګ له پاره لار هواره کړي. د افغانستان او روسیې ترمنځ اقتصادي اړیکي ورځ تر بلې مخ په پراخېدو دي. کابل ته د روسیې فدراسیون د لومړي وزیر د مرستیال سفر هم د همدې اړیکو د لا پراختیا په موخه ترسره شو. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او د روسیې فدراسیون د لومړي وزیر د مرستیال په لیدنه کې د سوداګریزو اړیکو د پراختیا، ګډې پانګونې او عملي همکاریو په اړه خبرې وشوې. افغانستان د طبیعي زېرمو، جغرافیایي موقعیت، کرنیزو ظرفیتونو او بشري قوې له پلوه د پانګونې لپاره د پام وړ فرصتونه لري. اسلامي امارت د همدې ظرفیتونو په اغیزناک ډول مدیریت او د بهرنۍ پانګونې په جذب سره هڅه کوي چې هېواد له وارداتي حالتې تولیدي، صادراتي او د اقتصادي ځان بسیاینې په لور بوځي. همدا اوس د صنعتي پارکونو له پاره سیمې ځانګړې شوې او د ځانګړو اقتصادي زونونو د جوړولو پلان شته او ټول تمرکز پر همدې دی چې افغانستان پر یوه مهم تولیدي او سوداګریز مرکز بدل شي. په دې برخه کې روسیه ښه ظرفیت لري او که دواړه هېوادونه یو له بل سره په عملي ډول د اقتصادي همکاریو ترځنګ تخنیکي همکارۍ ترسره کړي، نو دېر ژر به یو بل له متقابلو اقتصادي ګټو برخمن شي. له روسیې فدراسیون سره د درملو، غنمو او اوړو او غوړیو د وارداتو، روسیې ته د تازه میوو په ځانګړې ډول انارو د صادراتو، دوه اړخیزو سوداګریزو اړیکو د پراختیا او یو شمېر نورو برخو کې د ۱۰۳ میلیون ډالرو په ارزښت ۱۵ تفاهمنامې لاسلیک شوې. په دې تفاهمنامو کې له افغانستان څخه روسیې ته د تازه میوو په ځانګړې ډول انارو صادرات دي. افغانستان کې په زیاته اندازه انار، انګور، منې، زردالو او داسې نورې تازه میوې تولیدېږي. د دې تفاهمنامې پر بنسټ به د روسیې په څېر لویو بازارونو ته د افغانستان کرنیزو محصولاتو د لېږد له پاره زمینه برابره شي، دا به نه یوازې د بزګرانو عاید لوړ کړي، بلکې پر مټ به یې د کرنې سکټور هم وده وکړي، د صادراتو په کچه کې به زیاتوالی راشي او په ټوله کې به د سوداګرۍ د پراختیا لامل وګرځي. که چېرې روسیه او افغانستان په اقتصادي برخه کې یو له بل سره خپلو همکاریو ته دوام ورکړي، نو دغه چاره به د دواړو هېوادونو پر اقتصادي پرمختګ کې رغنده رول ولوبوي.

## د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د روسیې فدراسیون د لومړي وزیر له مرستیال سره ولیدل



۲مه صفحه

## پروژه بازسازی لین انتقال برق ۱۱۰ کیلوولت میمنه ـ اندخوی به بهره‌برداری سپرده شد



۳مه صفحه

## اقتصادي کمیسیون د بهرنۍ پانګونې پالیسي تایید کړه



۵مه صفحه

## د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د روسيې فدراسيون د لومړي وزير له مرستيال سره وليدل



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند، د ۱۴۰۵ کال د عقرب مياشتې په ۲۱مه نېټه، د ارګ په چهارچنار مانۍ کې د روسيې فدراسيون د لومړي وزير له مرستيال ښاغلي الکسي اووړچوک او مل پلاوي سره وليدل. د دې ليدنې پرمهال د دواړو لورو ترمنځ د اقتصادي او سوداګريزو اړيکو د پراختيا، ګډې پانګونې او عملي همکاريو په اړه خبرې وشوې. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وويل، چې افغانستان د مهم جغرافيوي موقعيت او غني طبيعي سرچينو په درلودلو سره د اقتصادي ودې او ګډې پانګونې لپاره پراخ ظرفيتونه لري. له همدې امله روسي پانګوالو او شرکتونو ته د کانونو، نفتو او ګازو، انرژۍ، صنعت، کرنې، روغتيا، مخابراتو او زېربناوو په برخو کې د پانګونې بلنه ورکوو. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د دواړو لورو ترمنځ د سوداګرۍ حجم د زياتوالي په موخه د روسيې بازارونو ته د افغان صادراتو د اسانه لاسرسي موندلو، د ترانزيټي او ترانسپورټي لګښتونو کمولو او ګمرکي مراحلو په ساده کولو کې د روسيې فدراسيون همکاري مهمه وبلله. د دې ليدنې په ترڅ کې روسيې ته د افغان کرنيزو محصولاتو په ځانګړې ډول جلغوزيو، زعفرانو، انارو، انګورو او پنبې د صادراتو زياتوالي او افغان سوداګرو ته د اوږدمهاله روسي ويزو په ورکولو کې د اسانتياوو رامنځته کولو غوښتنه وشوه. ورپسې د روسيې د لومړي وزير مرستيال ښاغلي الکسي اووړچوک خبرې وکړې. هغه خوښي څرګنده کړه چې په افغانستان کې په مختلفو برخو کې د پام وړ پرمختګونه رامنځته شوي، چې مهم هغه يې د سراسري امنيت ثبات، د زېربنايي پروژو تطبيق، د مخدره توکو پر وړاندې مبارزه او همدا ډول په مالي او بانکي برخو کې د منظمو اصلاحاتو راوستل دي. ښاغلي اووړچوک وويل چې د روسيې فدراسيون افغانستان خپل مهم سيمه‌ييز شريک هېواد ګڼي او په همدې موخه په مختلفو برخو، په ځانګړې ډول اقتصادي او سوداګريزو برخو کې د همکاريو پراختيا ته لېوالې دی. نومورې وويل، په وروستيو کې د روسيې او افغانستان ترمنځ د سوداګرۍ کچه زياته شوې او د لا پراختيا لپاره يې روسي لوری د افغان کرنيزو محصولاتو د لا زيات پېر ته چمتو دی. د روسي پلاوي مشر ښاغلي اووړچوک زياته کړه، چې روسيه په افغانستان کې د کانونو استخراج، بربښنا او درملو توليد، صنعت، زېربنا، کرنې، روغتيا او همداراز نورو برخو کې پانګونې او اقتصادي همکاريو ته چمتو ده. د يادونې وړ ده چې د روسي پلاوي په ترکيب کې د بېلابېلو فدرالي وزارتونو او ادارو استازي، پانګوال، سوداګر او صنعت‌کاران کابل ته راغلي، چې شمېر يې ۱۳۰ تنو ته رسېږي.

## د افغانستان او روسيې فدراسيون ترمنځ د ۱۰۳ ميليونه ډالرو په ارزښت د اقتصادي همکاريو ۱۵ تفاهمنامې لاسليک شوې



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او د روسيې د لومړي وزير مرستيال ښاغلي الکسي اووړچوک په حضور کې د افغانستان او روسيې فدراسيون د خصوصي سکټور ترمنځ د ۱۰۳ ميليونه ډالرو په ارزښت د اقتصادي همکاريو ۱۵ تفاهمنامې لاسليک شوې. دغه تفاهمنامې افغانستان ته د درملو، غنمو او اوړو او غوړيو د وارداتو، روسيې ته د تازه ميوو په ځانګړې ډول انارو د صادراتو، دوه اړخيزو سوداګريزو اړيکو د پراختيا او يوشمېر نورو برخو اړوند دي. د دې تفاهمنامو پر اساس به دواړه هېوادونه يو او بل ته صادرات او واردات ولري.

ABAADI ONLINE FORTNIGHTLY
د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت پنځلس ورځنی
ابادي
پنځلس ورځنی

## پروژه بازسازی لین انتقال برق ۱۱۰ کیلوولت میمنه ـ اندخوی به بهره‌برداری سپرده شد

از سوی محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء پروژه بازسازی لین انتقال برق ۱۱۰ کیلوولت میمنه ـ اندخوی، به تاریخ ۲۳ عقرب ۱۴۰۵، در ولایت فاریاب به بهره‌برداری سپرده شد. محترم ملا عبدالغنی برادر آخند در مراسمی که به همین مناسبت برگزار شده بود، گفت که با تکمیل کارهای بازسازی لین انتقال برق ۱۱۰ کیلوولت میمنه ـ اندخوی، زمینه دسترسی حدود ۶۰ هزار مشترک به برق باثبات و مطمئن فراهم شده است. معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء افزود که این پروژه در تأمین نیازهای برق باشندگان منطقه، توسعه فعالیت‌های صنعتی و پیشرفت اقتصادی و اجتماعی منطقه نقش مثبت خواهد داشت. محترم ملا صاحب گفت که امارت اسلامی افغانستان در مدت کوتاهی، پروژه‌های متعددی را در بخش تولید و انتقال برق تطبیق کرده است که در نتیجه آن، وابستگی به برق وارداتی و پرچاوی برق کاهش یافته و ظرفیت‌های جدیدی برای رشد و توسعه فعالیت‌های صنعتی ایجاد شده است. محترم ملا عبدالغنی برادر آخند به هموطنان اطمینان داد که تا یک سال آینده، به‌منظور تأمین برق پایدار، پروژه‌های بزرگ دیگری در بخش توسعه زیربناهای برق تطبیق خواهد شد و ظرفیت موجود برق چندین برابر افزایش خواهد یافت. معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء در جریان سخنان خود گفت که افغانستان در حال حاضر از امنیت خوبی برخوردار است؛ امنیتی که در اکثریت کشورهای جهان نظیر آن دیده نمی‌شود و به گفته وی که از زمان حاکمیت دوبارهٔ امارت اسلامی تا اکنون، سیاحان و اتباع خارجی به‌گونه پیوسته به افغانستان سفر می‌کنند و بدون هیچ مانع و ترس به مناطق مختلف و دوردست کشور رفت‌وآمد دارند. محترم ملا صاحب گفت: «کشورهایی که سفر اتباع خود به افغانستان را به دلیل خطر امنیتی به تعویق می‌اندازند؛ این ادعایی کاذب است و چنین اقداماتی، جز توجیه سیاسی تبعیض‌آمیز، هیچ‌گونه توجیه منطقی دیگری ندارد. آرزوی ما این است که تمامی کشورهای جهان، به‌جای تحریف واقعیت‌ها، زبان تعامل واقعی و معنادار را پیدا نموده و تقویت کنند». در پایان معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء از سرمایه‌گذاران داخلی و خارجی دعوت نمود تا در افغانستان سرمایه‌گذاری کنند و گفت که محیط امن و مناسبی برای سرمایه‌گذاری‌های بزرگ و متوسط در کشور فراهم شده است. قابل یادآوریست که لین انتقال برق میمنه ـ اندخوی ۱۳۵ کیلومتر طول دارد و برای بازسازی آن حدود ۱۴۵ میلیون افغانی هزینه شده است. این پروژه از سوی انجینران افغان تطبیق شده و تمویل مالی آن از سوی امارت اسلامی افغانستان صورت گرفته است.




## د بیات پاور د ۴۰ مېګاواټه ګازي برېښنا توربین بیاځلې فعالیت پیل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ کال د عقرب میاشتې په ۲۳مه نېټه په جوزجان ولایت کې د بیات پاور د ۴۰ مېګاواټه ګازي برېښنا توربین د بیاځلې فعالیت د پیل پرانیسته وکړه.



محترم ملا صاحب د ګازي برېښنا د تولید په برخه کې د بیات پاور له پانګونې ستاینه وکړه او له نورو پانګوالو یې هم وغوښتل، چې د برېښنا سکتور او نورو سکتورونو کې پانګونه وکړي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، د افغانستان اسلامي امارت د هېواد د اقتصادي ودې او صنعتي کېدو په لور مهم ګامونه اخیستي او پانګوالو ته یې د پانګونې غوره او مناسب فرصتونه رامنځته کړي. محترم ملا صاحب له پانګوالو او صنعت‌کارانو وغوښتل چې د هېواد په ابادۍ او خلکو ته د کاري فرصتونو په رامنځته کولو کې خپله ونډه واخلي.

ABAADI ONLINE FORTNIGHTLY
د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت پنځلس ورځنی
ابادي
پنځلس ورځنی

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د يتيم‌تاق د گازو له سيمې ليدنه وکړه

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ کال د عقرب مياشتې په ۲۳مه نېټه د جوزجان ولايت د يتيم تاق د گازو له سيمې ليدنه وکړه.

د افغان گاز امارتي شرکت مسوولينو په وينا، اوسمهال د يتيم تاق د گازو سيمې اووه څاګانې فعالې دي او د پنځو نورو څاګانو د کيندنو قرارداد يې له يو بهرني شرکت سره لاسليک شوی او عملاً يې کارونه پيل شوي. د دوی په خبره، له اوو فعالو څاګانو څخه په ورځني ډول له ۶۵۰ زره مترمکعب څخه زيات گاز استخراج او له پروسس وروسته بازار ته وړاندې کېږي. د افغان گاز امارتي شرکت مسوولين زياتوي چې له پروسس شوي گاز څخه ۴۰۰ زره مترمکعب گاز د سړې او برېښنا توليدي امارتي شرکت، ۲۵۰ زره مترمکعب گاز بيات پاور او پاتې نور په بازار کې مستهلکينو ته وړاندې کېږي. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال له معيارونو سره سم د گازو پر استخراج او د منل شوو معيارونو په پام کې نيولو سره د نويو څاګانو پر ايستلو ټينګار وکړ. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وويل چې افغانستان د طبيعي گازو پراخې زېرمې لري او پانګوال کولای شي د دې زېرمو په استخراج او پروسس کې پانګونه وکړي. محترم ملا صاحب زياته کړه چې د افغانستان اسلامي امارت پانګوالو ته مناسب چاپېريال او اړينې اسانتياوې رامنځته کړې دي.



## د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د عزيزي شرکتونو له عمومي رييس سره وکتل

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند، د ۱۴۰۵ کال د عقرب په ۱۳مه نېټه، د عزيزي شرکتونو له عمومي رييس ښاغلي ميرويس عزيزي او مل پلاوي سره وکتل. په دې کتنه کې د عزيزي شرکتونو له لوري د پيل شويو او پيلېدونکو پروژو په اړه هر اړخيزې خبرې وشوې. د عزيزي شرکتونو عمومي رييس ښاغلي ميرويس عزيزي په خپلو خبرو کې وويل چې دوی په افغانستان کې د گازو او ډبرو سکرو استخراج او د برېښنا د توليد په ګډون د بېلا بېلو پروژو عملي کېدو ته ژمن دي. نوموړي زياته کړه، همدا اوس په غزني او د کابل په نغلو او باريک اب کې د لمريزې برېښنا د توليدي پروژو چارې روانې دي. ورپسې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپلو خبرو کې د عزيزي شرکتونو له لوري په افغانستان کې د پانګونې او د اقتصادي پروژو پيل يو مهم ګام وباله او ويې ويل چې ددې پروژو په عملي کېدو او تطبيق سره به په هېواد کې اقتصادي پرمختګ ته لار هواره او په هېواد کې به د بېکاری کچه راټيټه شي. دغه راز، محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له اړوندو وزارتونو او ادارو څخه وغوښتل چې له عزيزي شرکتونو سره دې د پروژو په عملي کېدو کې خپلې همکاری نه سپموي. له ليدنې وروسته د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو په مرکز کې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال په حضور کې د کانونو او پټرولیم وزارت، امارتي شرکتونو لوی رياست او عزيزي شرکتونو ترمنځ د جوزجان د جنګل کلان طبيعي گازو او د بغلان پلخمري د ډبرو سکرو د استخراج او انرژی د توليد تړونونه لاسليک شول. د دې پروژو موخې د کورنۍ برېښنا د توليد زياتول، د انرژی امنيت پياوړي کول او د اقتصادي ودې ملاتړ کول دي. د يادونې وړ ده چې هره پروژه د شاوخوا زر مېګاواټه برېښنا د برابرولو لپاره طرحه شوې ده او قرارداد يې د دېرش کلونو لپاره لاسليک شو. تمه ده چې دواړه پروژې به په مستقيم او نامستقيم ډول شاوخوا پنځه زره هېوادوالو ته کاري فرصتونه ايجاد کړي.



## اقتصادي کمېسيون د بهرنۍ پانګونې پالیسي تایید کړه

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسيون نوبتي غونډه، د ۱۴۰۵ کال د عقرب میاشتې په ۱۷مه نېټه، په مرمرينه مانۍ کې جوړه شوه. غونډې ته د اقتصادي



معاونيت په مشرۍ د جوړې شوې کمېټې له لورې (د بهرنۍ پانګونې پالیسي) د بحث لپاره وړاندې او له هراړخيزې ارزونې وروسته د اقتصادي کمېسيون د نظرونو په پام کې نيولو سره تایید شوه. د دې پالیسۍ موخې په هېواد کې د بهرنۍ پانګونې د چارو تنظيم، د بهرنۍ پانګونې لپاره د اسانتياوو، فرصتونو او مناسب چاپېريال رامنځته کول، په هېواد کې د بهرنۍ پانګونې د مصؤنيت تأمين او د هېواد د اقتصادي ودې او پراختيا لپاره د زمينې برابرول دي. همدارنګه، په غونډه کې د هېواد په ګمرکونو کې د تجارتي وارداتي شرکتونو د ثابتې مالیې د ورکړې طرحه هم د تایید وړ وبلل شوه. د دې طرحې د تطبيق په صورت کې به وارداتي تجارتي شرکتونو ته ډېرې اسانتياوې رامنځته شي. پورته پربکړې د نهايي تصميم نيولو په موخه د عالیقدر امیرالمؤمنين شيخ الاسلام حفظه‌الله تعالی دفتر ته واستول شوې.

## د سوالګرۍ د مخنيوي په اړه له تمويلوونکو سره د همغږۍ غونډه جوړه شوه

د رياست‌الوزراء اقتصادي معاونيت د عامه اړيکو رياست له لورې، د ۱۴۰۵ کال د عقرب میاشتې په ۲۰مه نېټه، په هېواد کې د سوالګرۍ د مخنيوي په موخه د نړيوالو موسسو او مرستندويه بنسټونو له استازو سره د همغږۍ غونډه جوړه شوه. په غونډه کې د سوالګرۍ پر عواملو، دايمي او دوامداره حل لارو او د دې پديدې پر وړاندې د افغانستان اسلامي امارت د هڅو ترڅنګ د نړيوالو موسسو او مرستندويه بنسټونو پر ګډې همکارۍ خبرې وشوې. د موضوع په اړه له تفصيلي بحث وروسته ټينګار وشو، چې د سوالګرۍ کچې د راکمولو په موخه دې سوالګرو ته د حرفوي زده کړو، مشروطو نغدي مرستو او اقتصادي پياوړتيا له لارې دوامداره او باعزته معيشت رامنځته شي. د ناستې په پای کې، د نړيوالو موسسو او مرستندويه بنسټونو له استازو سره د دې پديدې د ښه مديريت په موخه د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت له لورې يوه جامع طرحه هم شريکه شوه، چې د نړيوالو موسسو او مرستندويه بنسټونو له هرکلي سره مخ شوه.

## طرح ساخت مارکیت تجارتی در جوزجان قابل تأیید دانسته شد

جلسه نوبتی کمیته سرمایه‌گذاری بین‌الوزارتی، به تاریخ ۱۲ عقرب ۱۴۰۵، در قصر مرمرین برگزار شد. در این جلسه، طرح ساخت یک مارکیت تجارتی سه‌منزله از سوی سکتور خصوصی در زمین شاروالی، در شهر شبرغان ، مرکز ولایت جوزجان، برای بحث ارائه شد. پس از بحث همه‌جانبه، طرح یادشده قابل تأیید دانسته شد.

همچنان، به این جلسه طرح ساخت لابراتوارهای معاینه و تشخیص بیماری‌های ساری در کشور از سوی سکتور خصوصی نیز برای بحث ارائه شد. پس از بحث همه‌جانبه، تصمیم گرفته شد که وزارت صحت عامه تمام ابعاد این طرح را ارزیابی نموده و گزارش خود را در این مورد با کمیته سرمایه‌گذاری بین‌الوزارتی شریک سازد.

## پلان کاری ایجاد حلقه‌های ویژه اقتصادی (زون‌ها) تأیید گردید

پلان کاری ایجاد حلقه‌های ویژه اقتصادی (زون‌ها) در کشور، به تاریخ ۲۰ عقرب سال ۱۴۰۵، از سوی محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، تأیید شد. این حلقه‌های ویژه اقتصادی بر اساس حکم عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ الاسلام حفظه‌الله، در ولایت‌های کابل، بلخ، ننگرهار، قندهار، هرات، پکتیا و کندز ایجاد می‌شوند. بر اساس این پلان، وزارت صنعت و تجارت با همکاری سایر وزارت‌ها و ادارات مربوط، زمین‌های مورد نیاز این حلقه‌ها را تثبیت نموده، فعالیت‌های سکتوری و خدمات مورد نیاز را تشخیص می‌دهد و زمینه را برای سرمایه‌گذاری فراهم می‌سازد. با ایجاد این حلقه‌های ویژه اقتصادی، سرمایه‌گذاری‌های جدید در کشور جذب خواهد شد، توازن نسبی در بین صادرات و واردات برقرار و در نتیجه تمرکز بر فعالیت‌های تولیدی در یک محیط مناسب، تحول اقتصادی جدیدی به وجود خواهد آمد.



# د انرژۍ کورنيو سرچينو د فعالولو او اقتصادي ودې په برخه کې د خصوصي سکټور ونډه

مجيب الرحمن محمودي

## سريزه

انرژي د اقتصادي ودې، صنعتي پراختيا او د هېوادونو د اقتصادي ځان بسيايني له بنسټيزو اړتياوو څخه ده. د برېښنا دوامداره او باوري توليد نه يوازې د کورنيو اړتياوو د پوره کولو لپاره ارزښت لري، د دې ترڅنګ د صنعت، سوداګرۍ، کرنې، خدماتو او نورو اقتصادي فعاليتونو د پراختيا لپاره هم بنسټيز رول لري. هغه هېوادونه چې خپلې طبيعي سرچينې په اغېزناک ډول مديريت او د توليد په بهير کې تري ګټه اخلي، کولای شي د وارداتو اړتيا راکمه، د پانګونې زمينه پراخه او د اقتصادي فعاليتونو لپاره مناسب شرايط برابر کړي. افغانستان د طبيعي ګازو، اوبو، لمر او باد په ګډون د انرژۍ بېلابېلې سرچينې لري، چې په سمه توګه يې کارول د هېواد د اقتصادي ودې لپاره مهم فرصتونه رامنځته کوي. په همدې لړ کې د جوزجان ولايت د شبرغان ښار د يتيم تاق په سيمه کې د بيات پاور ګازي برېښناکوټ د کورنيو سرچينو د اقتصادي ارزښت لوړولو او د خصوصي پانګونې د پراختيا يوه مهمه بېلګه ده. د دې پروژې بيا ځلې فعالېدل هم د شته توليدي ظرفيتونو د احياء او د انرژۍ د سکتور د پياوړتيا په برخه کې د پام وړ اقتصادي اهميت لري.

## د کورنيو سرچينو پر مټ د برېښنا توليد

د بيات پاور پروژه د افغانستان له طبيعي ګازو څخه د برېښنا د توليد په برخه کې له مهمو خصوصي پانګونو څخه ده. د پروژې د توليد ظرفيت ۴۰ ميګاواټه ښودل شوی دی. د دې پروژې اقتصادي ارزښت په دې کې دی چې د هېواد کورنی طبيعي ګاز د خامې سرچينې په توګه نه، بلکې د برېښنا د توليد او اقتصادي ارزښت رامنځته کولو لپاره کارول کېږي. په حقيقت کې د طبيعي سرچينو اقتصادي اهميت يوازې د هغو په استخراج او پلور کې نه دی؛ بلکې اصلي ارزښت يې هغه مهال څرګندېږي چې په توليدي فعاليتونو کې وکارول شي او د هېواد د اقتصادي ودې لپاره زمينه برابره کړي. د بيات پاور د توليدي ظرفيت يوه مهمه ځانګړنه دا ده چې د طبيعي ګازو په وسيله تر ۴۰ مېګاواټه پورې برېښنا توليدوي، چې د شرکت د خپرو شويو معلوماتو له مخې د شاوخوا ۲۰۰ زره کورنيو د برېښنا اړتياوو د پوره کولو وړتيا لري. دغه ظرفيت د دې پروژې د اقتصادي اهميت څرګندونه کوي او ښيي چې د هېواد د کورنيو طبيعي سرچينو په اغېزناک استعمال سره د برېښنا د پام وړ اړتياوې پوره کېدای شي. د طبيعي ګازو په وسيله د برېښنا توليد د کورنۍ انرژۍ ظرفيت پياوړی کوي او د وارداتي برېښنا د اړتيا کمولو لپاره فرصت برابروي. سربېره پر دې د کورني توليد پراختيا د برېښنا د عرضې د تنوع، د انرژۍ د امنيت او د اقتصادي فعاليتونو د دوام لپاره مهمه ده. د اسلامي امارت تر چتر لاندې د دا ډول پروژو فعاليت کولای شي په اوږدمهال کې د توليدي مرکزونو صنعتي فابريکو او سوداګريزو بنسټونو د اړتياوو په پوره کولو کې مرسته

## د اسلامي امارت تر چتر لاندې د پروژې بيا فعالېدل او د پانګونې ملاتړ

د انرژۍ په برخه کې د شته ظرفيتونو فعالول او د خصوصي پانګونې لپاره د مناسب چاپېريال برابرول د اقتصادي ودې له مهمو اړتياوو څخه دي. د بيات پاور د ګازو برېښناکوټ د ۴۰ مېګاواټه توربين بيا ځلې فعاليت د همدې موخې پر لور يو مهم ګام بلل کېدای شي. د ۱۴۰۵ کال د لړم مياشتې په ۲۳مه نېټه د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په جوزجان ولايت کې د ياد توربين د بيا ځلې فعاليت د پيل په مراسمو کې ګډون وکړ او د ګازي برېښنا د توليد په برخه کې يې د بيات پاور له پانګونې ستاينه وکړه، همدا شان يې له نورو پانګوالو هم وغوښتل، چې برېښنا او نورو سکټورونو کې پانګونه وکړي. دغه اقدام څرګندوي چې د اسلامي امارت له لوري د انرژۍ د موجودو توليدي ظرفيتونو فعالولو، دکورنيو سرچينو د استفادې او د خصوصي سکټور د پانګونې د ملاتړ موضوع ته زياته پاملرنه کېږي. د پروژې بيا فعالېدل د موجودو اقتصادي شتمنيو د بيا کارونې او د پخوانيو پانګونو د توليدي ظرفيت د ساتنې له اړخه هم اهميت لري. په اقتصادي لحاظ، د شته تأسيساتو بيا فعالول په ډېرو مواردو کې د نويو تأسيساتو د جوړولو په پرتله لږ وخت او لګښت ته اړتيا لري او کولای شي د موجودو سرچينو له لارې د توليد ظرفيت ډېرته رامنځته کړي. د اسلامي امارت د اقتصادي تګلارې يوه مهمه اړتيا دا ده چې د امارتي او خصوصي سکټور تر منځ همغږي پياوړې شي. د بيات پاور پروژه د همدې همکارۍ يوه بېلګه ده؛ ځکه د طبيعي ګازو برابرول، د برېښنا توليد او د توليد شوې برېښنا شبکې ته لېږد د بېلابېلو ادارو او خصوصي سکتور همغږي ته اړتيا لري. د دې ډول همکارۍ پراختيا کولای شي د نورو

ABAADI ONLINE FORTNIGHTLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت پنځلس ورځنی

ابادي
پنځلس ورځنی

پانګوالو لپاره هم د پانګونې زمینه برابره کړي، د کارموندنې فرصتونه زیات شي، صنعت پراختیا وموميي او سیمه ییز اقتصاد ور سره پیاوړی شي.

## د کارموندنې، صنعتي پراختیا او سیمه ییز اقتصاد پیاوړتیا

د شاوخوا ۲۰۰ زره کورنیو د برېښنا اړتیاوو د پوره کولو وړتیا لرونکی تولیدي ظرفیت یوازې د کورنیو د ژوندانه د اسانتیاوو په برخه کې ارزښت نه لري، د دې ترڅنګ د سوداګریزو او تولیدي فعالیتونو د پراختیا لپاره هم مهم بنسټ برابروي. د برېښنا باوري عرضه د کوچنیو او منځنیو تولیدي فابریکو، سوداګریزو مرکزونو او خدماتي بنسټونو د فعالیتونو د دوام لپاره اساسي اړتیا ده.

د برېښنا تولید له مستقیم اقتصادي ارزښت سربېره پر ګڼو نورو اقتصادي برخو هم مثبت اغېز لري. د بیات پاور په څېر پروژې د تخنیکي کارکوونکو، انجنیرانو، ترمیماتي خدماتو، ترانسپورټ او تجهیزاتو د برابرولو په برخو کې د کاري فرصتونو د رامنځته کېدو زمینه برابروي. همدا رنګه د پروژې دوامداره فعالیت د سیمې د سوداګریزو او خدماتي فعالیتونو د پراختیا لپاره هم ګټور تمامېدای شي. د برېښنا د تولید د ظرفیت زیاتوالی د صنعتي پراختیا لپاره هم مهم دی. فابریکې، تولیدي شرکتونه او کوچني کاروبارونه د خپلو فعالیتونو د دوام لپاره باوري برېښنا ته اړتیا لري. هر څومره چې د کورنۍ برېښنا د تولید ظرفیت لوړ شي، په هماغه اندازه د تولیدي فعالیتونو د پراختیا لپاره مناسب شرایط برابرېدای شي. په ځانګړې ډول د هېواد په شمالي



ولایتونو کې د انرژۍ د تولید او وېش پیاوړتیا د سیمه ییز اقتصاد د تحرک او د پانګونې د جلبولو لپاره مهم فرصتونه رامنځته کوي. له بلې خوا د طبیعي ګازو په وسیله د برېښنا تولید د انرژۍ د سرچینو د متنوع کولو په برخه کې هم ارزښت لري. د اوبو، لمر، باد او طبیعي ګازو په ګډون د بېلابېلو سرچینو ګډ استعمال کولای شي د هېواد د انرژۍ نظام پیاوړی او د یوې ځانګړې سرچینې پر وړاندې د اتکاء کچه راکمه کړي.

## پایله

د بیات پاور ګازو برېښنا پروژه د افغانستان د انرژۍ د کورنیو سرچینو د اقتصادي ارزښت لوړولو، د خصوصي پانګونې د پراختیا او د تولیدي ظرفیتونو د فعالولو یوه مهمه بېلګه ده. د اسلامي امارت تر واکمنۍ لاندې د دې پروژې د توربین بیا ځلې فعالېدل د موجودو اقتصادي شتمنیو د احیاء او د انرژۍ د سکتور د پیاوړتیا په برخه کې د پام وړ اقدام دی.

د دې لاسته راوړنې د دوام او اغېزمنتیا لپاره اړینه ده چې د پروژې د فعالیت د دوام، د طبیعي ګازو د منظم تأمین، د تخنیکي تجهیزاتو د ساتنې او د تولیدي ظرفیت د بشپړې استفادې لپاره منظم پلانونه عملي شي. همدارنګه، د انرژۍ په نورو کورنیو سرچینو کې د ورته خصوصي پانګونو هڅول کولای شي د برېښنا د کورني تولید کچه لوړه، د صنعت د پراختیا زمینه برابره او د افغانستان د اقتصادي ځان بسیاینې بهیر چټک کړي. په ټوله کې، د بیات پاور د توربین بیا فعالېدل د دې څرګندونه کوي چې د شته ظرفیتونو په فعالولو او د امارتي او خصوصي سکتور په همکارۍ سره د هېواد د اقتصادي ودې لپاره مهم ګامونه اخیستل کېدای شي.

# د بهرنیو اسعارو بیې

**د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې**



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکایي ډالر | ۶۶,۲۰؋ | ۶۶,۲۵؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستاني کلدارې | ۲۳۴؋ | ۲۳۵؋ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ۰,۲۵؋ | ۰,۲۶؋ |
| ۱ | اروپایي یورو | ۷۳,۳۰؋ | ۷۳,۵۰؋ |
| ۱ | روسي روبل | ۰,۸۱؋ | ۰,۸۱؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندي کلداري | ۷۰۹؋ | ۷۰۹؋ |
| ۱ | انګلیسي پونډ | ۸۵,۴۰؋ | ۸۵,۶۰؋ |
| ۱ | سعودي ریال | ۱۷,۳۰؋ | ۱۷,۳۱؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۸,۰۳؋ | ۱۸,۰۳؋ |
| ۱ | چیني ین | ۹,۹۳؋ | ۹,۹۴؋ |